(پښتو)

# د خفګانونو علاج




شيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د خفګانونو عِلاج

دُعائے عطّار: يا ربَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله "د خفګانونو عِلاج" ولولي يا واوري هغهٔ د دُنيا او د اخرت د پريشانۍ او غم نه وساتې او د دواړو جهانو خوشحالۍ يې نصيب کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د الله پاک د پاره د يو بَل سره محبت لرونکي چې کله د يو بَل سره ميلاؤ شي او مصافحه وکړي (يعنې لاس ميلاؤ کړي) او په نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې دُرُودِ پاک ولولي نو د دوئي د جُدا کيدو نه مخکښې به د دواړو راتلونکي او مخکښيني ګناهونه وبخښلے شي-"
(مُسنَدِ اَبو يَعلٰى، ج ۳، ص ۹۵، حديث: ۲۹۵۱)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ؟؟؟ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روغي کولو ايمان تازه کوونکې واقعه

صحابي نبي حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما ته معلومه شوه چې د حضراتِ امامِ حَسَن او امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُما ترمينځه څهٔ خفګان راغلے وو ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسي حضرت امام حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته عرض وکړو: خلق تاسو دواړه صاحبان خپل پيشوا (يعنې سرداران) مني- تاسو خپل ورور جان حضرت اِمام حَسَن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له ورشئ او د هغوئي سره روغه وکړئ ځکه چې تاسو د هغوئي نه په عمر کښې کَشر يئ- په دې باندې حضرت اِمامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائيل: که ما د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمانِ عالي شان نه وے اوريدلے چې " (په روغه

کښېږي) وروميے والے کوونکے به جنَّت ته هم مخکښې ځي" [1] نو زۀ به ضرور د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر شوے وے خو زۀ دا نه خوښووم چې د هغوئي نه مخکښې جنَّت ته لاړ شم- حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې زۀ د حضرت امامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خوا ته حاضر شوم او هغوئي ته مې ټوله واقعه بيان کړله نو د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسي حضرت امامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفرمائيل: صَدَقَ اَخِیۡ يعنې "زما ورور رښتيا وه وئيل" بيا هغوئي ودريدل او د خپل ورور حضرت اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خوا له لاړلو او د هغوئي سره يې روغه وکړله- (ذخائر العقبی، ص:۲۳۸ سے خلاصه) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صدقہ حسن حسین کا یاربِّ مصطفٰے
کردے معاف ہر خطا یاربِّ مصطفٰے

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ! صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د جنَّت ته د مخکښې تللو نُسخه

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې ايمان تازه کوونکې واقعې نه دا سبق ميلاؤ شو چې که د چا سره هم څۀ خفګان راشي نو مونږ له زړۀ مضبوطول او د روغې د پاره وروميے والےکول پکار دي، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ يو ځل د يو بَل نه خفه دوؤ وروڼو ته د روغې کولو ترغيب ورکړو او اوئې فرمائيل: " پۀ تاسو دوارو کښې چې څوک پۀ ميلاؤيدو (يعنې روغه کولو) کښې وروميے والے وکړي هغۀ به د جنَّت طرف ته وروميے والے کوي-"

(حیاتِ اعلیٰ حضرت، ج:۱، ص: ۳۵۸ سے خلاصه)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ! صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

---

1 ـــــ الزهد، ص: ۳۵۳، حديث: ۷۲۶

# شيطان پۀ خپل مينځ کښې جنګول کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ياد ساتئ! شيطان لعنتي مسلمانان پۀ خپل مينځ کښې جنګوي او قتل او ژوبله  کوي هغوئي روغې ته نه پرېږدي- بلکې داسې هم کيږي چې که څوک نيک انسان مينځ ته راشي او د هغوئي روغه هم وکړي نو بيا هم قِسما قِسم وسوسې زړۀ ته وراچوي او هغوئي غولوي- اللّٰه پاک د شيطان مکار د ګزار نۀ خبردارے ورکوي او د 15 سيپارې، د سُورَةُ بَنِيِّ اِسرَآءِيل پۀ 53 آيت کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ؕ

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان**: بے شکه شيطان د خلقو پۀ مينځ کښې فساد اچوي.

اللّٰه پاک د 7 سيپارې، د سُورَةُ الْمَآئده پۀ 91 آيت کښې فرمائي:

اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَ الْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَ الْمَيْسِرِ

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان**: شيطان خو هُم دا غواړي چې د شرابو او جوارئ پۀ ذريعه ستاسو پۀ مينځ کښې دُښمني او بُغض او کِينه واچوي-

# تول پۀ روغه جوړې  سره اوسئ

پۀ کومو کورونو کښې چې پۀ خپل مينځ کښې خفګانونه وي، د مور لور، پلار زوي، ورور خور، خوابنې اينګور، د ايندرور ورندار او نورو خپلوانو پۀ خپل مينځ کښې خفګان وي، د ګاؤنډيانو سره خفګان وي، د دوو دوستانو خپل مينځ کښې نه لګي، د خاندانونو او د قبيلو پۀ خپل مينځ کښې جګړه وي، پۀ بازار کښې چې کوم دکانداران د يو بَل پۀ ښپو وهلو کښې مصروفه وي، هُغه ټولو مسلمانانو ته د اللّٰه پاک د رضا د پاره پخه روغه کول او د يو ځائے اوسيدو او د شيطان د جنګولو د تباه کولو ګزار بے کاره کول پکار دي، يقيناً چې خپل مينځ کښې د فسادونو سره د دُنيا او د اخرت بے شميره نقصانونه دي- کوم عاشقانِ رسول چې تر اخره پورې دا رساله ولولي

یا واوري نو اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! پهٔ خپل مينځ کښې د خفګانونو نه د بچ کيدو او د معافۍ او د بخښنې نه د کار اخستو ذِهن به يــې جوړ شي-

## غصّه د فساد جرړه ده

پهٔ وړه وړه خبره باندې پهٔ جذباتو کښې راتلونکــے غصه ناک انسان اکثر د فسادونو سبب جوړيږي، غصه ناکو خلقو ته ځان خبرول پکار دي چې د نفس له وجهې پهٔ غصه کښې د بے قابو کيدو او د الله کريم د نافرمانۍ والا کار کولو سره هسې نه چې د دوزخ ژورې کندې ته پريوځي-

## د غصې تعريف

د غَضَب يعنې د "غصې" معنیٰ ده: ثَوَرَانُ دَمِ الْقَلبِ اِرَادَةَ الِانْتِقَامِ- يعنې د بدل اخستو د اِرادې پهٔ وجه د زړهٔ وينه پهٔ جوش کښې راتلل-" (المفردات، ص:608) حضرت الحاج مفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: "غَضَب يعنې غُصّه د نفس د هٰغه جوش نوم دے کوم چې د بَل نه د بدل اخستو يا د هغې پهٔ دفع (لرې کولو) باندې راپاروي -" (مرأة المناجيح، ج: 6 ص: 600)

## د دوزخ خاص دروازه

د الله پاک خوږ اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: " د دوزخ يوه دروازه ده، پهٔ کومه باندې به چې هٰغه خلق داخليږي د چا غصه چې د الله پاک د نافرمانۍ نه پس سَړيږي-" (شعب الایمان، ج: ۱۱ ص: ۲۲۰ حديث: ۸۳۳۱)

سُن لو! نقصان ہی ہوتا ہے بالآخر اُن کو
نفس کے واسطے "غصہ" جو کیا کرتے ہیں

(وسائلِ بخشش، ص: ۲۹۴)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ؟؟؟ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مالِک بن دِینار رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د غصې ښنلو برکت (واقِعه)

حضرت مالِک بن دِینار رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ يو کور په کرايه باندې واخستو- د هغه کور سره بالکل جُخت د يو يهودي کور وو- هغه يهودي به د دښمنۍ په وجه د "ناوې" (يعنې د چت د اوبو بهر ته د راغورځولو) په ذريعه سخا اوبه د حضرت مالک بن دينار رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ کور مبارک ته راغورځولې- خو هغوئي به خاموشه وو- اخر يوه ورځ هغۀ هم پخپله عرض وکړو: جناب! زما د ناوې نه د بهيدونکو اوبو د ګندګۍ په وجه تاسو ته څۀ شکايت خو نشته؟ هغوئي ډير په نرمۍ سره وفرمائيل: " د ناوې نه چې کوم ګند راغورځيږي هغۀ په جارو باندې صفا کووم-" هغۀ وه وئيل: تاسو له د دومره تکليف باوجود غصه نه درځي؟ اوئې فرمائيل: راځي خو زۀ يې ښنم ځکه چې (د قرآنِ کريم پۀ څلورمه سيپاره، سورۃ اٰلِ عِمران، آيت: 134 کښې) د الله پاک فرمانِ عالي شان دے:

وَ الْكٰظِمِیْنَ الْغَیْظَ وَ الْعَافِیْنَ عَنِ النَّاسِؕ وَ اللّٰهُ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَۚ﴿۱۳۴﴾

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان**: او غُصَّه ښنلو والا او خلق معاف کوونکي دي او الله د نيکو خلقو سره محبت فرمائي-

يهودي چې دا جواب واوريدو نو مسلمان شو- (تذکرۃالاولیاء، ص:۴۵)

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی
بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ؟؟؟ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د غُصې نه بُغض او کينه پيدا کيږي

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو**! تاسو وکتل چې د نرمۍ څنګه برکتونه دي! د نرمۍ نه متاثره شو او هغه يهودي مسلمان شو- د غصې په تباهيانو کښې دا هم دي چې د دې نه بُغض او کينه (يعنې عداوت او دښمني) پيدا کيږي د کومې نه چې بعضې وخت خبره جنګ جګړې او قتل ته هم ورسي-

## د کینې تعریف

**اَلْحِقْدُ: اَنْ يُّلْزِمَ نَفْسَهُ اسْتِثْقَالَ اَحَدٍ وَّالنِّفَارَ عَنْهُ، وَالْبُغْضَ لَهُ وَاِرَادَةَ الشَّرِّ**

یعنې: "د یو کَس خلاف په زړۀ کښې نفرت، ناخوښي او دښمني او بُغض ساتل او د هغۀ بد غوښتلو ته کینه وئیلے شي-" (الحديقة الندية، ج:٣، ص:٤٨)

د کینې او دښمنۍ تباهۍ ولولئ او د الله پاک د ویرې نه ولړزیږئ:

## په بخښنه کښې خنډ [یعنې رکاوټ]

مشهور صحابي حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بیانوي چې د دواړو جهانو د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " د خلقو اعمال په هره هفته کښې دوه ځله پیش کولے شي یعنې د ګل او زیارت په ورځ، بیا د دښمنۍ لرونکو دوو وروڼو نه علاوه هر مؤمِن بخښلے کیږي او وئیلے کیږي: دا دواړه پریږدئ تر دې پورې چې یو ځائے شي-" (مسلم، ص:١٣٨٨، حديث:٢٥٦٥)

## د دښمنۍ لرونکي بد قسمتي

د صحابي نبي حضرت مُعاذ بن جَبل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې د نبیانو د سردار، مکي مَدَني سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " د شَعبان په پینځلسمه شپه کښې الله پاک خپلو بندګانو ته د رحمت په نظر باندې ګوري او ټول بخښي خو مُشرِک او دښمني کوونکے نۀ بخښلے کیږي-"

(ابن ماجه، ج:٢، ص:١٦١، حديث:١٣٩)

## بغیر د شرعي وجهې نه تعلق ختمول ګناه ده

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** یاد ساتئ چې د شریعت د حکم نه بغیر صرف د ذاتي خفګان له وجهې د مسلمانانو د یو بل سره تعلقات ختمول ګناه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:

”د مسلمان سره بغير د شرعي وجهې نه کينه او بغض ساتل حرام دي او بغير د شرعي مصلحت نه د دريو ورځو نه زيات سلام او خبرې اترې پريښودل هم حرام دي-“ (فتاوىٰ رضويه، ج:٦، ص:٥٢٦) د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د الله کريم د خوږ نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” د يو مسلمان د پاره جائز نه دي چې د خپل ورور سره د دريو ورځو نه زيات [تعلق] پرېږدي، چا چې د دريو ورځو نه زيات پريښودلو او مړ شو **نو دوزخ ته داخل شو-**“

(**ابو داؤد**، ج: ۴ ص: ۳٦۴، **حديث**: ۴٩١۴)

# درې قِسمه خلق

صحابي ابنِ صَحابي حضرت عبدُ الله ابنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: ” د درې قِسمه خلقو نـمونځونه د هغوئي د سَر نه يو لويشت هم بَره نه ځي ﴿1﴾ د قوم هُغه اِمام کوم چې خلق نه خوښوي ﴿2﴾ هُغه ښځه کومې چې په داسې حالت کښې شپه تيره کړله چې د هغې خاؤند خفه وي ﴿3﴾ هُغه دوه ورونړه کوم چې (د شريعت د اجازت نه بغير) د يو بَل نه خفه وي-“ (**ابنِ ماجه**، ج:١، ص:٥١٦، **حديث**: ٩٧١)

# د عيب پټولو فضيلت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ياد ساتئ چې بغير د شرعي اجازت نه په خپل مينځ کښې د خفګان ساتلو له وجهې عام طور د دواړو طرف د خلقو ترمينځه د بدګمانو، چغليانو او د تهمتونو وغيره په شان دوزخ ته د بوتلونکو ګناهونو سلسله روانه وي- په خپل مينځ کښې د خفګانونو له وجهې د يو بل د عيب راښکاره کولو ګناه هم ډيره زياته کولے شي ځکه د ډير احتياط ضرورت دے- که د يو مسلمان عيب درته معلوم شي نو د هغې پټول ضروري دي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مسلمان په عيب پټولو کښې ډير ثواب دے لکه څنګه چې د حضرت عُقبه بن عامِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت

دے، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: " چا چې د يو کس پټ عيب وليدلو او هغه يې پټ اوساتلو نو داسې ده لکه چې هغۀ ژوندۍ ښخه کړے شوې ماشومه ژوندۍ کړه-" (معجم اوسط، ج:٦، ص:٩٤، حديث: ٨١٣٣)

## د عيب وضاحت!

حضرت الحاج مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د دې حديثِ پاک کوم وضاحت فرمائيلے دے د هغې نه حاصليدونکي مَدَني ګلونه وړاندې کوو: ❁ هٰغه عيب کوم چې د يو مسلمان د حق پۀ باره کښې نه وي او دا ګس هغۀ د خلقو نه پټول غواړي، بعضې شارِحين (يعني د حديثونو شرح کوونکو علمائے کرامو) وفرمائيل چې د دې نه مُراد د مسلمان نارينه او زنانه سَتر دے يعنې که څوک لغړ وه وينې نو هغۀ له جامې ورکړې، کيدے شي چې دواړه ترينه مُراد وي ❁ داسې چې (د چا عيب وه وينې او) پخپله هغۀ ته وه وائې چې ګوره! بيا د پاره داسې حرکت اونه کړې ګنې بيا به ستا خير نه وي او د خلقو نه (د هغۀ عيب) پټ کړې د پاره د دې چې تبليغ هم وشي او د مسلمان پرده هم وساتلے شي خو که دا ګس د چا د وژلو يا ( چا ته د) نقصان (رسولو) پټ سازش کوي نو ضروري ده چې د دې خبر هٰغه (يعني چا ته چې دا نقصان رسول غواړي) ته وکړي  چې هغۀ د نقصان نه بچ شي يا که دا ګس عادت لرونکے مجرم جوړ شوے دے نو د دې اِعلان وکړې- لهذا د دې فرمان دا مقصد نه دے چې د پټ غل، قاتل جرم پټ کړه، د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) فرمان مبارک ډير جامع وي ❁ يعني د دې پردے ساتلو (يعني د عيب پټولو) ثواب داسې دے لکه چې ژوندۍ ښخه کړے شوې ماشومه د قبر نه راوباسې او د هغې ژوند بچ کړې ځکه چې د مسلمان عزت د هغۀ د ژوند پۀ شان د احترام قابل دے- بهر حال د مسلمان تلونکے عزت بچ کول ډير د ثواب کار دے خو د دغه قيود (يعني د وضاحتونو) دې خيال وساتلےشي کوم چې مونږه عرض کړل-

(مراٰة المناجيح، ج:٦، ص:٥٤٠)

# مسلمان له ښنګه کیدل پکار دي؟

د صحابي ابنِ صَحابي حضرت عبدُ الله ابنِ عمر رَضِیَ اللہُ عَنْھما نه روايت دے چې د الله پاک خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: ”يو مسلمان د بَل مسلمان ورور دے نۀ به پۀ هغۀ باندې ظلم کوي او نۀ به يې پۀ ډاګه يواځې پرېږدي- او څوک چې د خپل ورور حاجت (يعنې ضرورت) پوره کړي الله پاک د هغۀ حاجَت (يعنې ضرورت) پوره کوي- او څوک چې د يو مسلمان تکليف لرې کړي الله پاک به د قيامت پۀ ورځ د هغۀ تکليفونه لرې کړي- او څوک چې د يو مسلمان عيب پټ کړي نو الله پاک به د قيامت پۀ ورځ د هغۀ عيب پټ کړي-“ (مسلم، ص: ۱۳۹۴، حدیث: ۶۵۸۰)

# عيب پټ کړه، جنَّت بيامومه

صحابي نبي حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بيانوي چې د الله پاک د ټولو نه د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”څوک چې د خپل ورور عيب وه ويني او هغۀ پټ کړي نو هغۀ به جنَّت ته داخل کړے شي-“

(مسند عبد بن حمید، ص: ۲۷۹، حدیث: ۸۸۵)

# چې کله جګړه راشي

پۀ خپل مينځ کښې د خفګان پۀ وجه بعضې وخت د يو بَل غيبت پۀ کثرت سره کيږي- غيبت ګناهِ کبيره، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- چې کله پۀ زړونو کښې خفګان کور جوړ کړي او پۀ خپل مينځ کښې جګړه راشي نو بيا د غيبتونو او تهمتونو سيلاب پۀ موجونو شي او غيبت کوونکي او اوريدونکي دوزخ ته ورسوي- پۀ دې باره کښې د دواړو جهانو د سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه ارشادات واورئ او د الله پاک د ويرې نه ولړزيږئ:

## ﴿1﴾ د غيبت عذاب

زۀ د مِعراج پۀ شپه باندې د داسې خلقو پۀ خوا راتير شوم چا چې خپل مخونه او سينې د اوسپنې پۀ نوکامونو راشوکولې- ما پوښتنه وکړه: اے جبرائيله! دا څوک دي؟ عرض يې وکړو: دوئي به د خلقو غوښې خوړلې (يعنې د هغوئي غيبتونه به يې کول) او د هغوئي عزتونه به يې خرابول-" (ابو داؤد، ج: ۴، ص: ۳۵۳، حديث: ۴۸۷۸)

## د غيبت تعريف

د يو (ژوندي يا د مړ) کَس پټ عيب (کوم چې هغۀ د خلقو پۀ مخکښې ظاهريدل نۀ خوښوي) د هغۀ د بدو پۀ طور باندې ذِکر کول- (بهارِ شريعت ج: ۳، ص: ۵۳۲)

## ﴿2﴾ د تُهمت عذاب

"کوم کَس چې پۀ مسلمان باندې "بُهتان" (يعنې تُهمت) ولګوي (يعنې داسې څه وه وائي کوم چې پۀ هغۀ کښې نه وي) نو الله پاک به هغۀ پۀ **رَدغةُ الخبال** کښې ساتي تر دې پورې چې هغۀ د خپلې کړې خبرې نه رابهر شي-"

(ابو داؤد، ج: ۳، ص: ۴۲۷، حديث: ۳۵۹۷)

(**رَدغةُ الخبال** پۀ دوزخ کښې يو ځائے دے چرته چې به د دوزخيانو وينه او زغوې جمع کيږي) د بيان شوي حديثِ پاک پۀ دې حصه: " تر دې پورې چې هغۀ د خپلې کړې خبرې نه بهر شي" مطلب بيانولو سره حضرت شيخ عبدُ الحق محدِّث دهلوي رَحمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: يعنې د دې ګناه نه د توبې پۀ ذريعه ووځي، يا د کوم عذاب چې هغۀ حق دار دے د هغې د خوړلو نه پس به (د تهمت د ګناه نه) پاک شي-

(اشعةُ اللّمعات، ج: ۳، ص: ۲۹۰)

## ښيرې کول انتقام دے

ياد ساتئ چې پۀ ځان باندې د ظلم کوونکي پۀ حق کښې ښيرې کول انتقام (يعنې بدله اخستل دي) د مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

”چا چې ظالم ته ښيرې وکړې هغهٔ خپل بدل واخستو-“ (ترمذي،ج:۵،ص:۳۲۴، حديث:۳۵۴۳)

# د جګړې نه د بچ کيدو فضيلت

د خپل نفس پهٔ خاطِر د جګړې نه مسلمان له بچ کيدل پکار دي تر دې پورې که څوک مو زړهٔ هم ازار کړي نو بيا هم د بحث او خبرو نه د ځان بچ کول پکاردي، د معافي نه کار اخستل او د جګړې نه پهٔ ځان ساتلو کښې خير دے- د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” څوک چې پهٔ حق باندې د کيدلو باوجود جګړه نه کوي زهٔ د هغهٔ د پاره د جنَّت پهٔ (دننه) غاړه کښې د کور ضامِن يم-“

(ابو داؤد، ج: ۴، ص: ۳۳۲، حديث: ۴۸۰۰)

# مسلمان چا ته وئيلے شي؟

د مسلمانانو پهٔ خپل مينځ کښې د جګړې سره څهٔ واسِطه! دا خو د يو بَل محافظان دي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: (پوره) مسلمان هغهٔ دے د چا د ژبې او لاس نه چې مسلمان ته تکليف اونه رسي او (کامِل يعني پوره) مهاجر هغهٔ دے کوم چې هُغه څيز پريږدي د کوم نه چې الله پاک منع فرمائيلې ده- (بُخاري،ج:۱،ص:۱۵، حديث:۱۰)

د دې حديثِ پاک پهٔ وضاحت کښې حضرت الحاج مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې ”کامِل (يعني پوره) مسلمان هغهٔ دے څوک چې لُغةً شَرعاً (يعني پهٔ لغوي او شرعي لحاظ سره) پهٔ هر قِسم باندې مسلمان وي مومن دے څوک چې د کوم مسلمان غيبت نه کوي، کنځل، پيغور، چغلي وغيره نه کوي، څوک وهي ټکوي نه، نهٔ د هغهٔ خلاف څهٔ ليکي-“ نور فرمائي چې ”کامِل مهاجر هغهٔ مسلمان دے څوک چې د وطن پريښودو سره ګناه هم پريږدي، يا ګناه پريښودل هم لُغةً (يعني د لُغوي معني پهٔ لحاظ سره) هجرت دے کوم چې به هميشه جاري وي-“ (مراٰة المناجيح،ج:۱،ص:۲۹)

د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: د مسلمان د پاره جائز نه

دي چې د بَل مسلمان طرف ته پهٔ سترګه داسې اشاره وکړي د کومې نه چې هغهٔ ته تکليف ورسي- (الزُّهد لابن المبارَک، ص: ۲۴۰، حديث: ۶۸۹) پهٔ بل ځائے کښې يې ارشاد وفرمائيلو: د يو مسلمان د پاره جائز نه دي چې هغهٔ څوک مسلمان ويروي-

(ابو داؤد، ج: ۴، ص: ۳۹۱، حديث: ۵۰۰۴)

## مسلمان ته ضرر رَسَوَل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** يقيناً چې د حقوق العِباد معامله ډيره نازکه ده خو آه! نن سبا د بے باکۍ دور شروع شوے دے، عوام خو عوام دي بعضې وخت خاص پهٔ نظر راتلونکي خلق هم د دې نه غافله وي، د غصې د (بے ځايه اظهار) مرض عام دے، د غصې پهٔ وجه اکثر خواص (يعنې خاص صاحبان) هم د خلقو زړهٔ ازاروي او د دې ګناه طرف ته د هغوئي بالکل توجه نه وي- يقيناً چې د يو مسلمان بغير د څهٔ شرعي وجهې زړهٔ ازارول کبيره ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- د دوارو جهانو د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ اٰذٰى مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذَانِىْ، وَمَنْ اٰذَانِىْ فَقَدْ اٰذَى اللّٰهَ،

يعنې چا چې (بغير د څهٔ شرعي وجهې) يو مسلمان ته ضرر ورسولو هغهٔ ما ته ضرر راورسولو او چا چې ما ته ضرر راورسولو هغهٔ الله پاک ته ضرر وروسولو-

(معجم اوسط، ج: ۲، ص: ۳۸۶، حديث: ۳۶۰۷)

الله پاک او رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ضرر (يعنې تکليف) ورکول هُم د کافِرانو ډيره بده طريقه ده، الله کريم پهٔ 22 سيپارهِ سورهٔ الاحزاب، آيت 57 کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾

(پ: ۲۲، الاحزاب: ۵۷)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه څوک چې الله او د هغهٔ رسول ته تکليف ورکوي پهٔ هغوئي باندې دُنيا او اخرت کښې الله لعنت فرمائيلے دے او الله د هغوئي د پاره رسوا

کوونکے عذاب تیار کړے دے۔

## بد ښکاره کول د عذاب سبب دے

خاص طور د مبلغ او خصوصاً د سُني عالِم څه خامي یا خطا چا ته ښکاره کول ، په خلقو کښې هغه عام کول د نیکۍ دعوت او د اِسلام په معامله کښې ډیر بد او د دُنیا او د اخرت د پاره سخت نقصان دے۔

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: او د اهلِسُنَّت نه که بتقدیر اِلٰهی څه داسې سخت خویدل [خطا] واقع شي د هغې اخفا(پټ ساتل) واجِب دي چې مَعَاذَ الله! خلق به د هغهٔ نه بد اعتِقاد (یعني بد ګمانه) شي نو کومه نفع چې د هغهٔ د تقریر نه اسلام او سُنَّت ته رَسیدله په هغې کښې به خنډ [یعني رکاوټ] جوړیږي، د دې اشاعت (عام کول)، بدښکاره کول دي او بد ښکاره کول د قرآنِ عظیم په نصّ سره حرام دي۔ قَالَ اللهُ تَعَالٰی(یعني الله پاک فرمائي):

اِنَّ الَّذِیْنَ یُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِیْعَ الْفَاحِشَةُ فِی الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ۙ فِی الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةِ ؕ

(پ: ۱۸، النور: ۱۹)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بے شکه کوم خلق چې غواړي چې په مسلمانانو کښې د بے حیايۍ خبره خوره شي د هغوئي د پاره په دُنیا او اخرت کښې دردناک عذاب دے۔

خاص طور چې کله هٔغه بندګانو د حق خدائے طرف ته بغیر د څهٔ عذر او هیلو بهانو نه رجوع وکړله۔ رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ عَيَّرَ اَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتّٰى يَعْمَلَهُ،،

چا چې خپل ورور د څهٔ ګناه په وجه پیغور ورکړو(یعني شرمنده یـې کړو) هغهٔ به د مرګ نه مخکښې په هٔغه ګناه کښې اخته کیږي۔

(ترمذي، ج: ۴، ص: ۲۲٦، حدیيث: ۲۵۱۳) (فتاوٰی رضویه، ج: ۲۹، ص: ۵۹۴)

بعضې خلق ډیر جګړ مار وي، هڅي بے هیڅه تنقیدونه کوي، د مچ نه د کوچو

ويستو او پۀ وړه وړه خبره باندې فسادونه کوي او د مسلمانانو د پاره د ضرر سبب جوړيږي، داسې خلقو له ويريدل پکار دي چې په 30 سيپاره، سُورَةُ البُرُوج، لسم نمبر آيت کښې د اللّٰهُ ربُّ العِباد ارشاد دے:

اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَ لَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ؕ﴿۱۰﴾

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بے شکه کومو خلقو چې مسلمانان سړي او مسلمانې زنانه پۀ ازميښت کښې اخته کړلې بيا يـې توبه اونکړه د هغوئي د پاره د دوزخ عذاب دے او د هغوئي د پاره د وور عذاب دے۔

# فِتنه راپورته کوونکي باندې لعنت

د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " فتنه اوده وي پۀ هغۀ باندې د اللّٰه پاک لعنت څوک چې دا راببداره کړي۔"

(الجامِع الصَّغير، ص: ۳۷۰، حديث: ۵۹۷۵، تاريخ قزوين للرافعي، ج: ۱، ص: ۲۹۱)

# دښمن دوست جوړولو قُرآني نُسخه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا اُصول ياد ساتئ چې نجاست پۀ نجاست باندې نه بلکې پۀ اوبو باندې پاکولے شي ځکه که څوک ستاسو سره د نادانۍ سلوک وکړي نو بيا هم تاسو د هغۀ سره د محبت نه د ډَک سلوک کولو کوشش کوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغې د ښو نتيجو ليدلو سره به ستاسو خوا ضرور يخيږي۔

پۀ خدائے پاک باندې مې دې قَسم وي! هغه خلق ډير خوش قِسمته دي څوک چې د خپيرې جواب په سوک سره ورکولو پۀ ځائے ظلم کوونکے معاف کړي او بدي پۀ ښيګړې سره ختموي۔ د بدئ پۀ ښيګړې سره د ختمولو ترغيب پۀ قرآنِ کريم کښې موجود دے، پۀ 24 سيپاره د سُورَةُ حٰمٓ السَّجدَه پۀ 34 آيت مبارک کښې ارشاد دے:

اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَ بَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بدي د نيکئ پۀ ذريعه لرې کړه نو ستا او د کوم کس پۀ

مينځ کښې چې دُښمني وي هغه به هُغه وخت داسې شي لکه پوخ دوست [چې] وی-

## د ښه سلوک نتيجه

حضرت علامه مولانا سيِّد محمد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په "خَزائِنُ العِرفان" شريف کښې د بدئ په نيکئ سره د ختمولو طريقه ښائي او ارشاد فرمائي: مثلاً غصه په صبر باندې، جَهل په حِلم (يعنې جهالت په نرمئ) باندې، بد سلوک په عَفو (په معافئ ) باندې چې که چرې څوک ستا سره بد وکړي نو معاف يې کړه- (نو) د دې خَصلت نتيجه به دا وي چې دښمن به د دوستانو په شان محبت شروع کړي- **شانِ نُزُول**: وئيلے شوي دي چې دا آيت د اَبو سُفيان په حق کښې نازِل شو چې د هغوئي د سختې دښمنئ باوجود نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي سره نيک سلوک وکړو، د هغوئي لور (حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللهُ عَنۡها) ته يې د خپلې نکاح شرف عطا کړلو- د دې نتيجه دا شوه چې هغهٔ صادِقُ المَحَبَّت يعنې رښتونے محبت کوونکے څان قربانوونکے (صحابي) جوړ شو-

(خزائن العرفان، ص: ۸۸۴، التفسير الوسيط للواحدي، ج: ۴، ص: ۳۶)

## د بدئ په نيکئ سره د ختمولو دوه مثالونه

### ﴿1﴾ د عامې معافئ اِعلان

د فتح مکهٔ مکرمه په موقع باندې د هُغه ځائے د قريشو سردارن او عام خلق په حرمِ کعبه کښې راجمع شوي وو، دا هُغه خلق وو څوک چې مسلسل 21 کاله د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر دښمنان وو، سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ کرامو او صحابيات عَليهمُ الرِّضوَان يې ډير ازار کړي وو، د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابه کرامو عَليهمُ الرِّضوَان يې په هجرت باندې مجبوره کړي وو، دا هم هُغه ظالمان وو چا چې د اِسلام او مسلمانانو د ختمولو د پاره په ايمان والؤ باندې حملې وکړې او ډير جنګونه يې ورسره کړي وو او نن دا خلق د دوارو جهانو د سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې خُلې نه د خپل قِسمت د فيصلې اوريدو د

پاره سرونه ښکته کړي وو او حاضر وو- د دواړو جهانونو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه خلقو ته وفرمائيل: ستاسو څۀ خيال دے! زۀ ستاسو سره څنګه سلوک کوونکے يم!" خلقو عرض وکړو: "ښه سلوک به فرمايي-" د رحمت والا آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: زۀ به هغه څۀ وايم کوم چې يوسف (عَلَیۡہِ السَّلَام) وئيلي وو:

**قَالَ لَا تَثۡرِیۡبَ عَلَیۡکُمُ الۡیَوۡمَ ؕ یَغۡفِرُ اللّٰہُ لَکُمۡ ۫ وَ ہُوَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ﴿۹۲﴾** (پ: ۱۳، يوسف: ۹۲)

**ترجمۂ کنزُ العِرفان:** نن پۀ تاسو هيڅ ملامتيا نشته، الله دې تاسو اوبخښي او هغۀ د ټولو مهربانو نه زيات مهربانه دے- (السنن الکبري للبهقي ج: ۹، ص: ۱۹۹، حديث: ۱۸۲۷۵ ملخصاً)

خار بچھانے والوں کو بھی پھولوں کا انعام دیا
آپ نے خون کے پیاسوں کو بھی راحت کا پیغام دیا

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ??? صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

# ﴿2﴾ وهلو والا يې معاف کړو

د کروړونو مالکيانو د عظيم پيشوا او مشهور عاشقِ رسول حضرت امام مالک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه د مدينے منورې ګورنر جعفر بن سُلَيمان خفه شو او د سزا پۀ طور يې حضرت امام مالک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ دُرو ووهلو (چې کله به پۀ دره وهلے کيدلو نو د هغوئي پۀ خُله مبارکه باندې به دا دُعا راتلله: **اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لَهُمۡ فَاِنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡن**، يعني اے الله پاکه! دا خلق معاف کړې چې دا د حقيقت نه خبر نه دي-

(ترتيبُ المّدارک للقاضي عِياض، ج: ۱، ص: ۱۲۵-)

تر دې پورې چې هغوئي بے هوشه شول- خلقو پۀ هغه حالت کښې هغوئي کور ته راوړلو، پۀ هوش کښې چې څنګه راغلو نو اوئې فرمائيل: "خلقو! ګواه اوسئ چې ما خپل وهونکي معاف کړل-" (الشفا بتعريف حقوق المصطفٰے ج: ۲، ص: ۵۱) **د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-**

**اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سلام اُن پر برائے نفس جو بدلہ نہ لیتے تھے
سلام ان پر جو دشمن کو دعائے خیر دیتے تھے

## د معافۍ په باره کښې د الله پاک ارشاد

د معاف کولو او بخښنې په باره کښې د 9 سیپارې، د سُورَةُ الاعراف په آیت: 199 کښې ارشاد دے:

خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ﴿۱۹۹﴾

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** اے حبیبه! معاف کول اختیار کړه او د نیکۍ حکم ورکوه او د جاهلانو نه مخ واړوه۔

## د جنَّت موندلو درې نُسخې

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وائي: رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: درې خبرې چې په کوم کَس کښې وي الله پاک به (د قیامت په ورځ) د هغهٔ حساب ډیر په اسانه طریقه باندې اخلي او هغهٔ به په خپل رحمت باندې جنَّت ته داخلوي۔ ما عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه خبرې کومې دي؟ اوئې فرمائیل: ﴿1﴾ څوک چې ستا سره تعلق پرېږدي ته د هغهٔ سره تعلق جوړ ساته ﴿2﴾ څوک چې تا محرومه کړي هغهٔ ته عطا کوي او ﴿3﴾ څوک چې په تا باندې ظلم وکړي ته هغهٔ معاف کړه۔ (معجم اوسط، ج:۱، ص:۲۶۳، حدیث:۹۰۹)

## بهادري

حضرت ابو عبدُالله محمد بن احمد مُقرِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "د خپل دښمن سره ښه سلوک کول، په ناخوښه کَس باندې مال خرچ کول او کوم کَس چې په زړهٔ ښه نه لګي د هغهٔ سره ښه تعلقات ساتل بهادري ده۔" (طبقات الصوفیه للسلمي، ص:۳۲۸)

# اللّٰه کريم به روغه وکړي

د الله پاک خوږ د ټولو نه اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: زما دوه اُمتيان به د الله پاک په بارګاه کښې په دواړو زنګونانو راپريوځي، يو به عرض کوي: " يا الله پاکه! د دۀ نه ما له انصاف راکړه دۀ په ما باندې ظلم کړے وو-" الله پاک به مُدَّعي (يعنې دعویٰ کوونکي) ته وفرمائي: اوس دا (يعنې په چا باندې چې دعویٰ شوې ده هغۀ) څۀ وکړي ، د هغۀ سره خو هيڅ نيکي باقي نشته - مظلوم (مُدَّعي) به عرض وکړي: زما ګناهونه د دۀ په ذِمه باندې واچوې- د دومره ارشاد فرمائيلو سره رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژړا شو- اوئې فرمائيل: هٰغه ورځ به ډيره عظيمه ورځ وي، ځکه چې هٰغه وخت (يعنې د قيامت په ورځ) به هر يو د دې خبرې ضرورت مند وي چې د هغۀ بوج سپک شي- الله پاک به مظلوم (يعنې مُدَّعي) ته وفرمائي: وګوره ستا مخې ته څۀ دي؟ هغۀ به عرض وکړي: اے رَبَّ! زۀ خپلې مخې ته د سرو زرو ښار او محلونه وينم کوم چې په ملغلرو ښائسته دي، دا د کوم نبي يا صدِّيق يا شهيد د پاره دي؟ الله پاک به فرمائي: دا د هغۀ د پاره دي څوک چې د دې قيمت ادا کړي- بنده به عرض وکړي: د دې قيمت څوک ادا کولے شي؟ الله پاک به فرمائي: تۀ يې ادا کولے شې- هغۀ به عرض کوي: هغه څنګه؟ الله پاک به فرمائي: داسې چې تۀ د خپل ورور حقونه معاف کړې- بنده به عرض وکړي: يا الله پاکه! ما خپل حقونه معاف کړل- الله پاک به وفرمائي: د خپل ورور لاس ونيسه او دواړه يو ځائے جنَّت ته لاړ شئ- بيا د دواړو جهانو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د الله پاک نه ويريږه او په مخلوق کښې روغه کوه ځکه چې الله پاک به هم د قيامت په ورځ په مسلمانانو کښې روغه کوي-

(المستدرک، ج: ۵، ص: ۷۹۵، حديث: ۸۷۵۸)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** بيان کړے شوے حديثِ پاک د مسلمانانو په مينځ کښې د روغې کولو د الله پاک د سُنَّت او د روغې د ترغيب ورکولو

د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّت پهٔ خوشبويۍ خوشبوداره دے- الله كريم پهٔ خپل مينځ كښې د روغې جوړې كولو ترغيب وركوي او د 26 سيپارې د سُورَةُ الحُجُرات پهٔ لسم آيت مبارك كښې ارشاد فرمائي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوْا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٠﴾

**ترجمهٔ كنزُ العِرفان:** صرف مسلمانان وروڼه وروڼه دي نو خپلو دوو وروڼو كښې صلح وكړئ او د الله نه ويرېږئ د پاره د دې چې پهٔ تاسو رحمت اوشي-

## په خلقو كښې صُلح [روغه] كول سُنّت دي

د قرآن د حكم سره سره د الله پاک د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک سُنَّت هم مونږ ته د روغې كولو عملي نمونه عطا كوي- حضرت علّامه مولانا سيّد محمد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ''خَزائِنُ العِرفان'' پهٔ صفحه 949 باندې ليكي: نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د سورلۍ پهٔ ځناور) خَر باندې چرته تشريف وړلو چې د انصارو پهٔ خوا راتيريدلو، هلته لږ ايسار شو، هلته خَر متيازې وكړې نو اِبنِ اُبَيّ پوزه بنده كړه- حضرت عبدُ الله بِن رَوَاحَه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمائيل: د حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د خَر متيازې ستا د مشكو نه زياتې خوشبوداري دي- حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خو تشريف يوړلو- د دې دواړو خبره زياته شوه او د دواړو قومونو پهٔ خپل مينځ كښې جګړه شروع كړه او لاس اچولو ته خبره ورسيدله- سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واپس تشريف راوړلو او د دواړو روغه يې وكړله- پهٔ دې معامله كښې دا آيت نازل شو:

وَإِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَأَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا (پ:٢٦، الحجرات: ٩)

**ترجمهٔ كنزُ العِرفان:** بيا كه د مسلمانانو دوه ډلې پهٔ خپل مينځ كښې پهٔ جنګ شي نو تاسو پهٔ هغوئي كښې صُلح وكړئ-

(خزائن العرفان، ص: ٩٤٩، تفسير كشاف، ج: ٤، ص: ٣٦٤)

پهٔ يو بَل ځائے کښې د روغې ترغيب ورکوي او د 5 سيپارې د سورۀ النسآء پهٔ 128 کښې ارشاد فرمائي:

وَ الصُّلۡحُ خَيۡرٌ ؕ وَ اُحۡضِرَتِ الۡاَنۡفُسُ الشُّحَّ

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** او صُلح بهتره ده او زړه لالچ ته نزدې کړے شوے دے

## د روغې کولو د پاره يې تشريف يوړلو

پهٔ بُخاري شريف کښې دي: صحابي رسول حضرت سَهل بن سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وائي: پهٔ قُبا کښې د بني عَمرو بن عَوف د خلقو څهٔ جګړه شوې وه نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو څهٔ صحابؤ سره د هغوئي د روغې کولو د پاره تشريف يوړلو-

(بخاري، ج:۱، ص:۴۱۰، حديث:۱۲۱۸)

## امامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روغه وکړله

پهٔ دې آيتونو مبارکو باندې د عمل کولو او د روغې کولو د سُنَّت پهٔ ښکلي رنګ زمونږه د بزرګانِ دِين رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡھِم مبارک سيرت پوره رنګ دے- دا مبارک حضرات به د مسلمانانو ترمينځه د روغې او امن د ګلونو سپړدلو د پاره د غټې نه د غټې قرباني ورکولو د پاره تيار وو- د دې يو روښانه مِثال، حضرت سيِّدُنا امام حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے چې د چا پهٔ باره کښې زمونږه د رحمت والا آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې د غيبو خبر ورکولو سره ارشاد فرمائيلے وو: " زما دا زوی سيِّد (يعني سردار) دے او الله پاک به د دهٔ پهٔ ذريعه باندې د مسلمانانو د دوو ډَلو روغه کوي-"

(بُخاري، ج:۲، ص:۵۰، حديث:۳۶۲۹)

نو اِمام حسن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل والد محترم د مسلمانانو د څلورم خليفه، حضرت مولائے کائنات، عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت نه پس 6 مياشتې او يو څو ورځې د خلافت څوکۍ سمبال کړه او بيا يې د مسلمانانو د دوو ډلو ترمينځه د روغې کولو د پاره د خلافت پهٔ شان د عظيم منصب نه هُم ځخپله فراغَت حاصل کړو-

# د نفل نـمونځ او خيرات نه افضل کار

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** يقيناً چې د اِصلاح بَينَ النَّاس (يعنې د خلقو پهٔ مينځ کښې روغه وکړئ) مطابق عمل کول يو ډير عظيم کار دے- حضرت ابودَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: آيا تاسو ته د روژې، صدقې او د نـمونځ نه د افضل کار خبر درنـکړم؟ صحابه کرامو عَليهمُ الرّضوَان عرض وکړو: ولې نه- اوئې فرمائيل: هٔغه کار پهٔ خپل مينځ کښې روغه کول دي- او پهٔ خپل معاملو کښې د خرابتيا ختمولو والا (کار) دے-

(ترمذي، ج: ۴، ص: ۲۲۸، حديث: ۲۵۱۷)

**شَرحِ حديث**: پهٔ مِرآت کښې دي: دلته نفلې روژې، نفلې صدقې (او) نفلې نـمونځ مُراد دے نهٔ چې فرائض- او پهٔ دې حصه: " او پهٔ خپلو معاملو کښې د خرابتيا ختمولو والا (کار) دے" پهٔ وضاحت کښې فرمائي: يعنې د مسلمانانو پهٔ خپل مينځ کښې تعلقات خرابول، پهٔ هغوئې کښې دښمني پيدا کول، د نيکو، ثوابونو فنا (يعني ختمولو) والا څيز دے، د دې د نحوست پهٔ وجه انسان د روژې، د نـمونځ د خوند بلکې بخپله د روژې، نـمونځ وغير نورو عبادتونو نه محرومه کيږي-

(مرآت، ج: ۶، ص: ۶۱۴ سے خلاصه)

# د هر لفظ پهٔ بدل کښې ثواب

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم کَس چې د دوو کسانو ترمينځه روغه وکړي، الله پاک د هغهٔ معاملې صحيح کوي او هغهٔ ته د هر لفظ پهٔ بدل د يو غلام ازادولو ثواب ميلاؤيږي او هغهٔ داسې واپس راځي چې د هغهٔ تير ګناهونه معاف شوي وي-

(الترغيب والترهيب للاصبهاني، ج: ۱، ص: ۱۵۵، حديث: ۱۸۶)

# ښه اِسلامي ورور څوک؟

تاسو وکتل! په خلقو کښې روغه کول څومره د فضیلت او عظمت والا کار دے۔ نو هغهٔ څومره ښه او نیک انسان دے څوک چې په خپلو کشرانو باندې شفقت کوي او د خپلو مشرانو عزت کوي، او د هر چا خیر غوارې او د ټولو خیر خواهي کولو سره د خپل پاک کردار او په نیکو خبرو د مسلمانانو په خپل مینځ کښې خفګانونه ختموي او د هغوئي ترمینځه د روغې کولو د پاره همیشه کوشش کوي۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ؟؟؟ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ”په صلح کښې صرف خیر دے“ د شپاړسو حرفونو په نسبت سره 16 نیتونه

دوه مَدَنې ګلونه: (۱) د اعمالو دار او مدار په نیتونو باندې دے (۲) څومره چې ښه نیتونه زیات وي هُغه همره ثواب هم زیات وي۔ **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** که چرې تاسو دا رساله ”**د خفګانونو عِلاج**“ پوره لوستلې وي نو غالباً په زړهٔ به مو ګزار خوړلے وي، همت وکړئ او د الله پاک د رضا د پاره ښکته لیکلے شوي 16 نیتونه وکړئ چې د نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: عربي **نِیَّةُ الْمُؤمِنِ خَیر مِن عَمَلِه** - یعني ” د مسلمان نیت د هغهٔ د عمل نه بهتر دے۔“

**(معجم کبیر، ج: ٦، ص: ١٨٥، حدیث: ٥٩٤٢)**

(1) د خپلو خفه شوو اِسلامي ورونړو او (2) خفه شوو خپلوانو ته به ځپله د ورو‌ړاندې کیدو او د الله پاک د رضا د پاره به ورسره روغه کووم (3) په تیرو ګناهونو به څوک هم نه شرمووم (4) په اوریدلے شوو خبرو کښې به نه راځم او د بَل چا سره به تعلقات نه خرابووم (5) د بد ګمانو (6) عیب لټولو (7) زړهٔ ازارولو (8) غیبتونو (9) چغلو (10) الزام لګولو او شَماتَت (یعني د چا په نقصان باندې د خوشحالیدو) نه به ځان ساتم (11) د غیبت او د چغلۍ اوریدو نه به ځان ساتم (12) څومره چې

رانه کيدے شي نو د اِسلامي ورونړو ترمينځه به د روغې کولو کوشش کووم (13) چا چا چې زما زړهٔ ازار کړے دے هغوئي د الله کريم د رضا د پاره معاف کووم (14) څوک چې بيا د پاره زما زړهٔ ازاروي هغوئي ته به خپل حق هم د مخکښې نه معاف کووم (ياد ساتئ چې د مخکښې نه د معاف کوونکي مسلمان بغير د شرعي اجازت نه بغير د زړهٔ ازاروونکے به د خدائے ذو الجلال د نافرمانۍ په وبال کښې بهرحال راګيريږي) (15) څوک چې زما سره بد کوي د قرآن د حکم اطاعت به کووم او د هغهٔ سره به د نيکۍ کولو کوشش کووم (16) دا رِساله (د خفګانونو عِلاج) به کم نه کم 12 عدده تقسيمووم (خاص طور خپلو خپلوانو او هغه مسلمانانو ته يې ورسوئ د چا چې په خپل مينځ کښې خفګانونه وي)

يا الله پاکه! مونږ ټولو ته د ميني او محبت سره د اوسيدو او په شريعت کښې دننه د اوسيدو سره د خفه شوو مسلمانانو د روغې کولو د ثواب ګټلو سعادت رانصيب کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دا رساله د لوستلو نه پس د ثواب په نيت باندې چا له ورکړئ

د غم ښادۍ په دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د مکتبة المدينه چاپ کړے شوې رسالې او د مَدَني ګولونو پمفلټس تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب په نيت په تحفه کښې د ورکولو د پاره په خپلو دکانونو کښې د رسالو کيښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرڅوونکو په ذريعه د خپلې محلې کور کور ته د مياشتې کم از کم يوه د سُنّتو نه ډکه رساله يا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نيکۍ دعوت عام کړئ او ښه ډير ثواب وګټئ۔

(ملفوظاتِ امير اہل سنّت، 363/1)(بہارِ شريعت، 288/1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ؟؟؟ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ، وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ۔

# په غريبۍ باندې د صبر انعام

حضرت حسن بن حبيب رحمۃ اللہ علیہ (وفات 197 هجري) د وفات نه پس چا په خوب کښې وليدو نو تپوس ترې وکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ، يعنې: اللّٰه پاک تاسو سره څۀ معامله وفرمائيله؟ هغوئي جواب ورکړو: غَفَرَ لِيْ بِصَبْرِيْ عَلَى الْفَقْرِ فِي الدُّنْيَا، يعنې زۀ دنيا کښې په فقر (يعنې تنګ لاسي يعنې غريبي) باندې د صبر کولو په وجه ووبخښلے شوم

(الصبر و الثواب عليه لابن ابي الدنيا، قول نمبر 92)


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډئ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net